هفته واره رساله



# خپلولي پرېښودل حرام دي

(د امیر اهلسنّت بیان)



- د خپلوانو حقونه
- د چا په موجودګۍ کښې رحمت نه نازلیږي
- د الله پاک د رحمت موندلو ذریعه
- د ټولو نه بهترینه صدقه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط

# خپلولي ماتَوَل حرام دي

د عطّار دُعا: یا رَبِّ کریمه! څوک چې دا رساله " خپلولي ماتَوَل حرام دي " ولولي یا واوري هغه ته د خپلوانو سره همیشه د ښهٔ سلوک کولو توفیق ورعطا کړې او سره د خاندانه یـې بے حسابه اوبخښې۔
اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې د شوق او محبت پهٔ وجه پهٔ شپه او ورځ کښې پهٔ ما باندې درې درې کرته دُرُودِ پاک ولوستو پهٔ الله پاک باندې حق دے چې د هغهٔ د هٰغې ورځ او د هٰغې شپې ګناهونه اوبخښي۔ (معجم کبیر، 362/18، حدیث: 928)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! نن سبا چې چا ته هم ګورې خپلولۍ ماتول یـې شروع کړي دي، چرته د مور او ځوي د یو بل سره نهٔ لګي نو چرته د ورونړو او خوئیندو پهٔ خپل مینځ کښې جګړې وي، چرته د ماماګانو او د خوریونو د یو بل سره نهٔ لګي نو چرته ترونه او وریرونه د یو بل نه خفه دي، غرض دا چې هر طرف ته پهٔ کورونو کښې جنګ جګړې دي۔ پهٔ ځان کښې د صِلهٔ رحمۍ [یعني د خپلوانو سره د خپلولۍ د پاللو] د جذبې د پیدا کولو او ځان د رشتې د ماتولو نه د بچ کولو د پاره د عبرت نه یو ډک حکایت واورئ:

## د رشته دارۍ ماتولو سزا (حکایت)

یو بزرګ رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: یو نیک او صالح عجمي کَس زما دوست وو او هغه د مکے مکرمې په خوا کښې اوسیدو، ټوله شپه به یـې د کعبې شریفې طواف کولو او همیشه به یـې د قرآنِ پاک تلاوت کولو- د ډیرې مودې پورې د هغهٔ هم دغه معمول وو- یو ځل ما هغهٔ له څهٔ سره زر د امانت په توګه ورکړل او ځپله یمن ته لاړم- کله چې واپس راغلم نو په اتفاقي توګه هُغه نیک اِنسان وفات شوے وو نو زهٔ د هغهٔ د اولاد خوا له لاړم او ټوله واقعه مې ورته بیان کړه او خپل امانت مې ترینه نه وغوښتو، هغوئي جواب راکړو: په خُدائے مو دې قَسم وي! تهٔ چې څهٔ وائې مونږ ته د دې هیڅ پته نشته او نهٔ مونږ ستا د امانت نه خبر یو- په داسې قِسمه خبرو اوریدو زهٔ ډیر پریشانه شوم چې افسوس! زما دومره ډیر مال ضائع شو- په دې پریشانۍ کښې زما ملاقات د سیدنا مالِک بن دِینار رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ سره وشو نو هغوئي چې زما په مخ د غم نخښې ولیدلې نو پوښتنه یـې اوکړه: اے زما وروره! دومره غمژن او پریشانه ولې یـې؟ ما چې هغوئي ته خپله ټوله واقعه بیان کړه نو هغوئي وفرمائیل: د جُمعې په شپه د نیمې شپې په مَطَاف (یعني د طواف په ځائے) کښې چې څوک هم نهٔ وي تهٔ د رُکن و مَقام (یعني د رکنِ یماني او مَقامِ اِبراهیم) ترمینځه ودریږه او په تیز اواز غږ اوکړه: اے فلانکیه! که واقعي هُغه د الله پاک مقبول او صالح بنده یـې نو د هغهٔ رُوح به ستا سره خبرې اوکړي-

هُغه بزرګ رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: زهٔ د اِرشاد مطابق د جُمعې په شپه د نیمې شپې چې کله مَطَاف خالي شو نو د مقامِ اِبراهیم او د رُکنِ یماني ترمینځه ودریدم

او پۀ تيز اواز مې غږ اوکړو خو هيڅ جواب ميلاؤ نۀ شو او زۀ مايوسه شوم او واپس راغلم- کله چې سحر شو نو ما سيدنا مالک بن دِينار رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ته ووئيل چې ما هغۀ ته اواز اوکړو خو ما ته هيڅ جواب ميلاؤ نۀ شو- پۀ دې اوريدو سيدنا مالک بن دِينار رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه "اِنَّالِلّٰهِ وَاِنَّآاِلَيۡهِ رٰجِعُوۡن" ولوستل او ما ته يې اِرشاد وفرمائيلو چې افسوس! هغه د نيکانو خلقو نه نۀ وو خو اوس تۀ داسې اوکړه چې يمن ته لاړ شه او هلته پۀ فلانکي ځائے کښې "بَرهُوت" نومې يو کوهے دے چرته چې د عذاب د حق دارو روحونه راجمع کيږي او هُغه کوهے د دوزخ پۀ خُله باندې دے، تۀ د نيمې شپې د هُغه کوهي پۀ غاړه ودريږه او داسې غږ اوکړه: اے د فلانکي روحه! نو د هغۀ رُوح به ستا سره خبرې اوکړي-

هُغه بزرګ رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: ما د يمن سفر شروع کړو او د نيمې شپې د "بَرهُوت" نومې کوهي خوا له لاړم او هلته کيناستم، هلته ما وليدل چې دوه کسان راوستے شو او کوهي ته کوز کړے شو، دواړو ژړل، يو د بل نه پوښتنه اوکړه: تۀ څوک يې؟ دويم جواب ورکړو: زۀ د هُغه ظالم کَس رُوح يم کوم چې پۀ دُنيا کښې د بادشاه څوکيدارې کوله او حرام به يې خوړل، ملک المَوت عَلَيۡهِ السَّلَام زۀ دې کوهي ته راوغورځولم او اوس ما له عذاب راکړے کيږي- دويم ووئيل: زۀ د عبد المَلک بن مَروان رُوح يم څوک چې نافرمانه او ظالِم اِنسان وو او اوس زۀ دې کوهي ته د عذاب د پاره راوستے شوے يم- ما چې د هُغه دواړو چغې او فرياد واوريدو نو د ويرې نه پۀ ما غونے ځيګ ځيګ شو بيا ما هُغه کوهي ته سر ورښکته کړو او پۀ تيز اواز مې ووئيل: اے فلانکيه! نو د هُغه کَس اواز راغلو: "لَبَّيک" (يعني زۀ حاضر يم) او هغه پۀ

داسې حالت کښې وو چې هغهٔ له د وهلو عذاب ورکړے کيدلو- ما د هغهٔ نه پوښتنه اوکړه: اے زما وروره! هٔغه امانت چرته دے کوم چې ما ستا سره ايښودے وو؟ هغهٔ جواب راکړو: هٔغه امانت پهٔ فلانکي ځائے کښې د پوړۍ [يعني سيړۍ] د لاندې ښخ دے- بيا ما پوښتنه اوکړه: اے زما وروره! د کومې ګناه پهٔ وجه تهٔ د بد بختو ځائے ته راوستے شوې؟ هغه جواب راکړو: زما د خور پهٔ وجه، ځکه چې زما يوه غريبه خور زما نه ډيره لرې د عَجَم پهٔ خاوره اوسيدله، زهٔ د هغې د پروا کولو نه بغير د الله پاک پهٔ عبادت کښې مشغول شوے ووم او پهٔ مکه مکرمه کښې اوسيدم او پهٔ دې موده کښې زما سره د هغې هيڅ فِکر نهٔ وو او نهٔ ما د هغې پهٔ باره کښې (د چا راتلونکي نه) څهٔ پوښتنه اوکړه-

کله چې زهٔ وفات شوم نو الله پاک زهٔ راګير کړم او ما ته يې اِرشاد وفرمائيلو: تا څنګه خپله خور هيره کړه حالانکې د هغې سره جامې نهٔ وې او تا جامې اغوستلي او ژوند دې تيرولو، هغه وږې وه او تا به پهٔ مړهٔ خِيټه باندې خوراک کولو ، هغه تږې وه او تا به اوبه څښلې- زما دې پهٔ خپل عزت او پهٔ جلال باندې قَسم وي! زهٔ به پهٔ خپلولۍ پريښودونکو باندې رحم نهٔ کووم، بيا الله پاک فرښتو ته حُکم اوکړو چې دا بوځئ او "بَرهُوت" نومې کوهي ته يې وغورځوئ- ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام زهٔ دې کوهي ته راغورځولے يم او اوس ما له دلته ډير سخت عذاب راکولے کيږي- اے وروره! تهٔ زما د خور خوا له لاړ شه او زما د پاره ورته د معافۍ خواست اوکړه، که هغې زهٔ معاف کړم نو کيدے شي چې زما د عذاب نه د نجات څهٔ لار راووځي ځکه چې د الله پاک پهٔ نزد د خپلولۍ ماتولو نه علاوه بله يوه

ګناه هم زما په ذِمه نشته- (يعنې هغه واقعي چې نيک اِنسان وو خو بس د هغهٔ نه دا خطا شوې وه چې هغه د خپلې خور سره ورانهٔ کړې وه)

هُغه بزرګ فرمائي چې زهٔ د هغهٔ د ښودلے شوې پتې مطابق هُغه ځائے ته لاړم چرته چې هغه امانت ښخ کړے وو، زمکه مې وکنستله او ما خپل امانت حاصل کړو، بيا د هغهٔ د خور خوا له لاړم او هغې ته مې د سر نه د اخره پورې ټوله واقعه بيان کړه نو هغه په ژړا شوه بيا ما د هغې د وررور د نجات د پاره ووئيل نو هغې د الله پاک په دربار کښې د محتاجئ عرض اوکړو، ما هغې له څهٔ دنيائي مال ورکړو او د هلته نه راواپس شوم- بس هر مؤمِن له پکار دي چې صِلهٔ رحمي اِختيار کړي- (قرۃالعیون مع الروض الفائق، ص: 401)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې واقعې نه مونږ ته دا درس میلاؤيږي چې اِنسان که هر څومره پرهيزګاره، نيک، امانت دار او ديانتدار ولې نهٔ وي که هغه بغير د څهٔ وجهې د مور او پلار او د خور او وررور سره تعلق پريږدي او په هغوئي باندې ظلم کوي يا د ترور، ماما، ترهٔ، د پلار د طرفه د نيا نيکه، د مور د طرفه د نيا نيکه وغيره خپلوانو سره تعلق پريږدي نو د دې انجام ډير خطرناک کيدے شي- نن سبا د چا د خپلې مور سره نهٔ لګي نو د چا د وررور سره، څوک د خپلې ترور او د ماما سره جګړې کوي نو څوک د ترهٔ سره، غرض دا چې ډير خلق د خپلولئ پريښودو ښکار دي- آؤ! که د چا په څهٔ جائزه وجه په خپل مينځ کښې خفګان دے نو په دې کښې هيڅ باک نشته مثلاً مور او پلار د څوي نه ځکه خفه دي چې هغه ږيره ولې پريښودې ده؟ نو په داسې حالت کښې که مور او پلار خفه وي نو د هغوئي ناجائزه خبره به نهٔ منلے کيږي-

یاد ساتئ چې چرته د اللہ پاک او د هغهٔ د خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حکم موجود وي نو هلته به د هغې پهٔ مقابله کښې د مور او پلار حکم نهٔ منلے کیږي۔ اللہ پاک مونږ ته د خپل خوږ حبیب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د تابعدارۍ حکم کړے دے او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: بریتونه ښه کم کړئ او ږیرې معاف کړئ [یعنې ږیرې پریږدئ]، د یهودیانو پهٔ شان شکل مهٔ جوړوئ۔ (مسلم، ص 125، حدیث:602 603 ملتقطاً) وګورئ چې د ږیرې د پریښودو پهٔ باره کښې واضحه حکم موجود دے نو بیا د مور او پلار نه د پوښتنې حاجت نشته۔ آؤ! چرته چې شریعت د مور او پلار نه د پوښتنې اجازت ورکړے دے نو هلته دې د هغوئي نه پوښتنه اوکړے شي مثلاً د نفلي حج یا د عمرې د پاره که تلل وي نو د مور او پلار نه دې پوښتنه اوکړے شي که هغوئي منع کړي نو بیا مهٔ ځئ۔ دا مسئله هم یاده ساتئ چې که پهٔ چا باندې حج فرض شي نو اګر که مور او پلار اِجازت نهٔ ورکوي نو بیا به هم حج کول وي۔ (فتاوی رضویه، 658/10) او که د مور او پلار پهٔ منع کولو څوک د فرض حج د ادا کولو نه منع شو نو هغه به ګنهګار وي۔ بهر حال د شریعت د حُکم پهٔ مقابله کښې به د مور او پلار او د خپلوانو حکم نهٔ منلے کیږي البته که مور او پلار پهٔ شریعت کښې دننه څهٔ حکم اوکړي نو د هغوئي نافرماني ډیره سخته ګناه ده او د مور او پلار د تنګونکو د پاره د درد ناکو عذابونو وعیدونه دي۔

## د وور پهٔ ښاخونو پسې زوړند خلق

سرورِ کائنات، شاهِ موجودات صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مِعراج پهٔ شپه یو منظر دا هم ولیدلو چې بعضې خلق د وور پهٔ ښاخونو پسې زوړند وو۔ عرض اوکړے شو: دوئي به مور او پلار ته کنځلې کولې۔ (الزواجر عن اقتراف الکبائر، 139/2 ملتقطاً)

## د مور او پلار د رضا نه بغير به عذاب نهٔ لرې کيږي

پهٔ يو روايت کښې دي چې الله پاک اِرشاد فرمائي: زهٔ به د هٔغه وخته پورې د مور او پلار د نافرمانو نه عذاب نهٔ لرې کووم د څو پورې چې د هغوئي مور او پلار پخپله هغوئي معاف نهٔ کړي او زما دې زما پهٔ عزت او جلال باندې قَسم وي! زهٔ به د مور او پلار د زړهٔ نه د رضا کيدو نه بغير د هغوئي اولاد د دوزخ نه نهٔ راوباسم- (قرة العيون مع روض الفائق، ص403 ملتقطاً)

## د مور او پلار نافرمانه د الله پاک د غضب ښکار

پهٔ يو بَل روايت کښې دي: د مور او پلار نافرمانه اګر که روژې نيسي او نـمونځونه کوي که هغه پهٔ داسې حال کښې مړ شو چې مور او پلار د هغهٔ نه خفه وو نو الله پاک به د هغهٔ سره پهٔ داسې حال کښې ملاقات کوي چې الله پاک به پهٔ هغهٔ باندې غضب فرمائي- (قرة العيون مع روض الفائق، ص403 ملتقطاً)

## د مور او پلار سره د ښو اَخلاقو حکم

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! د مور او پلار سره د ښو اخلاقو او اِحسان نه کار اخستل پکار دي لکه څنګه چې پهٔ قرآنِ پاک کښې الله پاک اِرشاد فرمائي: ﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا﴾ (پ 15، بنی اسرائیل:23) [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ” او مور پلار سره ښهٔ سلوک کوئ۔“ پهٔ حديثِ پاک کښې دي: څوک چې د رحمت پهٔ نظر باندې مور او پلار ته ګوري الله پاک هغهٔ ته د يو قبول شوي حج ثواب عطا کوي- (شعب الايمان، 186/6، حديث: 7856)

## د خپلوانو حقونه

ياد ساتئ چې د خپلوانو حقونه ډير زيات دي او شيطان خپلولی ماتوي لکه

څنګه چې الله پاک اِرشاد فرمائي: ﴿اِنَّ الشَّیْطٰنَ یَنْزَغُ بَیْنَهُمْؕ﴾ (پ 15، بنی اسرائیل:53)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ” بے شکه شیطان د خلقو پۀ مينځ کښې فساد اچوي۔“ وګورئ چې شيطان د خلقو پۀ خپل مينځ کښې نفرتونه پيدا کوي خو مؤمِن د محبت پيغام ورکوي۔ دې لړکښې حضرت سيِّدُنا جلالُ الدِّين رومي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ډيره ښکلې خبره فرمائيلې ده:

تُو برائے وَصْل کَرْدَنْ آمدی
نے برائے فَصْل کَرْدَنْ آمدی

يعنې تۀ د روغوَلو د پاره راغلے يې د ماتولو د پاره نۀ۔

## شيطاني کار

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د خلقو ترمينځه تربګنۍ پيدا کول، هغوئي پۀ خپل مينځ کښې جنګول او جدائي راوستل شيطاني کارونه دي او مونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غلامانو کيدو باوجود پۀ شيطان پسې روان يو۔ اوس پۀ صحيح معنو کښې پۀ سُنَّتو باندې د عمل کولو او د شريعت پۀ لار باندې روان نۀ يو، مونږ سره د شريعت او د سُنَّتو عِلم هم نشته، نۀ زمونږ سره د شريعت څۀ احساس شته، بس هم دا وجه ده چې پۀ مونږ کښې هر يو خپله خپله وائي او د هر يو سره صرف هم خپل فِکر دے۔ وګورئ چې شيطان هم د خلقو پۀ مينځ کښې تربګنۍ پيدا کوي او د دې ښکاره مثال د حضرت سَيِّدُنا يوسف عَلَيْهِ السَّلَام واقعه ده، حضرت يوسف عَلَيْهِ السَّلَام د يو ملک بادشاه جوړ شو او اخر چې کله د هغوئي د خپلو ورونو سره ملاقات وشو او هٰغه وخت چې حضرت يوسف عَلَيْهِ السَّلَام څۀ وفرمائيل د هغې بيان پۀ ديارلسمه سيپارۀ، د سورۀ يوسف پۀ آيت نمبر: 100 کښې څۀ داسې دے:

مِنۡۢ بَعۡدِ اَنۡ نَّزَغَ الشَّيۡطٰنُ بَيۡنِيۡ وَ بَيۡنَ اِخۡوَتِيۡ ؕ

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: د هغې نه پس چې شيطان زما او زما د وروڼو په مينځ کښې جګړه پيدا کړې وه-

معلومه شوه چې شيطان د وروڼو په مينځ کښې تربګني پيدا کوي- (1) اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي نفرتونه ختموي او د محبت شمعې بلوي، راشئ د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره تړون پيدا کړئ، مَدَني شمع بله ده، د دې نه رڼا حاصله کړئ او بيا په دې رڼا خپله دُنيا، قبر او اخرت روښانه کړئ-

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! خپلولي ماتول ډيره سخته ګناه او حرام کار دے او په حديثونو مباركو کښې د دې هم وعيدونه راغلي دي، د عبرت د پاره يو څو وعيدونه وړاندې کوو:

## د الله پاک په دربار کښې د قرابت(خپلولۍ) عرض

د حضرت سيدنا ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: کله چې الله پاک مخلوق پيدا کړو نو قرابت (خپلولۍ) عرض اوکړو: اے مولیٰ! زهٔ ستا نه د قطع رحمي(خپلولۍ د ماتولو) پناه غواړم- الله پاک اِرشاد وفرمائيلو: آيا تهٔ په دې خبره باندې راضي نهٔ يې چې چا ستا سره تعلق جوړ کړو زهٔ به د هغهٔ سره تعلق جوړووم او چا چې ستا سره تعلق

---

1 ... د يو قول مطابق د حضرت يوسف عَلَيْهِ السَّلَام وروڼه هم نبيان وو او علمائے کرامو د هغوئي د وروڼو هيله څهٔ داسې کړې ده چې دا هر څهٔ هغوئي د حضرت يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام د محبت موندلو د پاره کړي وو-
(فتاویٰ رضويه، 164/15 مفهوماً)

ختم کړو زهٔ به هم د هغهٔ سره تعلق ختم کړم- خپلولۍ عرض اوکړو: اے اللّٰه! زهٔ پهٔ دې باندې راضي يم- د دې بيانولو نه پس نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې آيت مبارک تِلاوت وفرمائيلو:

﴿ فَهَلْ عَسَيْتُمْ اِنْ تَوَلَّيْتُمْ اَنْ تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ وَ تُقَطِّعُوْۤا اَرْحَامَكُمْ ﴾ (پ26، محمد:22)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: "نو آيا تاسو دې خبرې ته نزدې يئ چې که تاسو ته حکومت حاصل شي نو پهٔ زمکه کښې به فساد خور کړئ او خپلولۍ به پرې کړئ-" (بخارى، 4/97، حديث:5987 مفهوماً)

اے د خپل مور او پلار خفه کوونکو! اے د خپلو ورونړو سره جګړې کوونکو! اے د خپلو خوئيندو سره د خپلولۍ پرېښودونکو! د خپلو ترورېانو، ماماګانو او ترونو سره رشته ختموونکو! د اللّٰه پاک پهٔ رښتوني کلام باندې پهٔ ښه طريقه غور اوکړئ چې اللّٰه پاک پهٔ خپلولۍ ماتوونکو باندې څومره غضب ناک دے! ياد ساتئ چې خپلولي ماتول ډېره سخته ګناه ده لهذا که چا د خپل مور پلار او خوئيندو ورونړو سره خپلولي پرېښودې وي نو هغوئي له پکار دي چې پهٔ سمدستي توګه دا سلسله ختمه کړي او د هغوئي سره روغه اوکړي-

## پهٔ دُنيا او پهٔ اخرت کښې عذاب

د مکي مَدَني سردار، د زړونو د قرار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: بغاوت او خپلولي ماتول دوه داسې ګناهونه دي پهٔ کومو چې پهٔ دُنيا او پهٔ اخرت کښې عذاب ورکولے شي- (ترمذى، 4/229، حديث:2519)

## د جَنَّت نه محرومي

پۀ يو روايت کښې دي: خپلولي ماتوونکي به جَنَّت ته نۀ ځي-

(مسلم، ص1062، حديث: 6520)

## محرومه خلق

نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: جبريلِ امين عَلَيْهِ السَّلَام د پينځلسم شعبان پۀ شپه زما خوا له راغلو او اوئې وئيل: پۀ نن شپه الله پاک د بَني کَلب د چيلو د ويښتو همره ګنهګاران بخښي خو مشرک، کينه ناک (يعني بُغض او دښمني لرونکے)، خپلولي ماتوونکے، پۀ تکبر سره خپل تهبند پۀ ځان پسې راښکونکے، د مور او پلار نافرمانه او شرابي نۀ بخښي-

(شعب الايمان، 384/3، حديث: 3837)

## خپلولي ماتوونکے دې زمونږ پۀ مجلس کښې نۀ کښيني

يو ځل د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې څه خلق حاضر وو نو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو: خپلولي ماتوونکے دې زمونږ پۀ مجلس کښې نۀ کښيني، پۀ دې اوريدو يو ځوان د هُغه ځائے نه پاڅيدو او د خپلې ترور خوا له لاړو ځکه چې د هغه د خپلې ترور سره څۀ ورانه وه د کومې پۀ وجه چې يې معافي وغوښتله او دواړو يو بل معاف کړو، بيا ځوان بيرته د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مجلس ته راغلو او کيناستو نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو: پۀ هُغه قوم باندې د الله پاک رحمت نۀ نازليږي پۀ کوم کښې چې خپلولي ماتوونکے موجود وي-

(الزواجر عن اقتراف الکبائر، 153/2)

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مخکښې به د خپلولۍ ماتیدو سلسله ډیره کمه وه خو نن سبا حالات بالکل د دې اُلټا دي، اوس به کیدے شي چې څوک داسې وي کوم چې د خپلوانو نه خفه نهٔ وي کنې عام طور پهٔ مونږ کښې د زياترو د خپلوانو سره خفګان وي- هم دا وجه ده چې نن سبا مسلمانان د قِسما قِسم مسئلو ښکار دي خو د خپلولۍ ساتلو پهٔ ځائے د نورو نه پهٔ ګیلو معنو کولو پهٔ نظر راځي چې صاحبه! زمونږه دعاګاني نهٔ قبليږي، پته نهٔ لګي چې څهٔ خطا رانه شوې ده چې زمونږ د کور نه بيماري نهٔ ځي، پته نهٔ لګي چې څهٔ ګناه شوې ده چې تنګدستي نهٔ لرې کيږي، مونږ پهٔ بزرګانو باندې دعاګانې اوکړې، لوئي لوئي مزارونو ته حاضر شو، ډيرې وظيفې مو اوکړې خو زمونږ مسئلې حل نهٔ شوې وغيره وغيره-

وګورئ چې د الله پاک د خوږ حبيب صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دے: پهٔ کوم قوم کښې چې د خپلولۍ ماتولو والا موجود وي پهٔ هغوئي د الله پاک رحمت نهٔ نازليږي- (الزواجر عن اقتراف الكبائر، 153/2) چې مونږ بغير د څهٔ شرعي اجازت نه خپلولۍ ختموو نو پهٔ مونږ باندې به رحمت څنګه نازليږي؟ زمونږه دعاګانې به څنګه قبليږي؟ زمونږه مسئلې به څنګه حل کيږي؟ د الله پاک د رحمت موندلو د پاره به مونږ له د خپلوانو سره خپلولي پالل وي او ښهٔ ډير غور به کول وي چې د چا چا سره زمونږ خفګان دے؟ بيا چې د چا سره زمونږ خفګان وي نو د هغوئي سره به روغه کول وي، که مونږ د خپل طرف نه د روغې پوره کوشش اوکړو او مخامخ ګس يے نهٔ مني نو دا د مجبورۍ حالت دے-

د معافۍ بخښني غوښتو پهٔ وخت د دهمکۍ والا انداز مهٔ اختياروئ مثلاً داسې مهٔ وايئ چې " معاف کوې مې که نهٔ؟ که نهٔ مې معاف کوې نو هيڅ

مسئله نشته“ وغيره وغيره- که پهٔ لاسونو جوړه کولو، پهٔ محبت سره، پهٔ عاجزئ سره، د بحث کولو نه بغير، پهٔ خپله غلطئ منلو معافي وغوښتلے شي نو اُميد دے چې مخامخ کَس نرم شي او معاف مو کړي او که د معافئ غوښتو پهٔ وخت که زړې قيصې تازه کول شروع کړے شي يا د مَچ نه کوَچ ويستل شروع کړے شي مثلاً د مخامخ کَس سره داسې خبرې اوکړے شي چې ”که مونږ فلانکئ خبره کړې وه نو تاسو خو هم فلانکئ خبره کړې وه“ يا ” تاسو مونږ ته د خپل کور پهٔ دستوره کښې د زړهٔ نهٔ دعوت نهٔ وو راکړے او د رابللو د پاره مو څوک راليږلي هم نهٔ وو او نهٔ مو زمونږ انتظار کړے وو“ يا ” تاسو پهٔ فلانکي ځائے کښې مونږ رټلي وو“ وغيره وغيره- ياد ساتئ چې که د روغې کولو پهٔ وخت داسې قِسمه کيلې معنې کوئ نو روغه به هيڅکله اونهٔ شي-

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د خپلولئ ماتولو دوه نور وعيدونه وګورئ:

## خپلولي ماتوونکے دې زمونږ د محفل نه پاڅي

حضرت ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ يو ځل د رسولِ عربي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حديثونه مبارک بيانول، اِرشاد يــې وفرمائيلو: هر خپلولئ ماتوونکے دې زمونږ د محفل نه لاړ شي- يو ځوان پاځيدو او د خپلې ترور کره لاړو د کومې سره چې د هغهٔ د ډيرو کلونو نه ورانه وه، چې کله دواړه د يو بل نه راضي شول نو هُغه ځوان ته ترور ووئيل: تهٔ لاړ شه او د دې د سبب پوښتنه اوکړه چې اخر داسې ولې وشول؟ (يعني د ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د اعلان څهٔ حکمت دے؟) ځوان حاضر شو او چې کله يــې پوښتنه اوکړه نو حضرت ابو هريره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ وفرمائيل چې ما د دواړو جهانو د آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا

اوريدلي دي:چي پهٔ کوم قوم کښې چې خپلولۍ پريښودلو والا وي، پهٔ هُغه قوم باندې د الله پاک رحمت نهٔ نازلیږي-

(الادب المفرد، ص26، حديث:61-63 ملتقطاً)

## د خپلولۍ ماتوونکي پهٔ موجودګۍ کښې رحمت نهٔ نالیږي

د سیدنا اَعمش رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې يو سحر حضرت اِبن مسعود رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پهٔ محفل کښې تشريف فرما وو نو هغوئي خلقو ته وفرمائيل: داسې کَس کوم چې د چا سره خپلولي پريښودې وي زهٔ هغهٔ له د الله پاک قَسم ورکووم چې هغه دې زمونږ د دې مجلس نه لاړ شي د پاره د دې چې مونږ د الله پاک نه د بخښني سوال اوکړو ځکه چې د څو پورې هغه ناست وي د هُغه وخته پورې به پهٔ مونږ باندې د الله پاک د رحمت دروازې بندې وي-

(معجم کبير، 158/9، حديث:8793)

(يعني که هغه دلته موجود وي نو زمونږه دُعا به نهٔ قبلیږي)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د دعاګانو د نهٔ قبليدو پهٔ ډيرو وجو کښې يوه وجه خپلولۍ ماتول هم دي، نن سبا ډيرو خلقو خپلولۍ پريښودې دي او د هغوئي سره د دې هيڅ اِحساس هم نهٔ وي بلکې د ظلم د پاسه ظلم دا دے چې پهٔ معاشره کښې دا ګناه هډو ګناه نهٔ ګڼلے کيږي حالانکې خپلولي پريښودل سخته ګناه ده- څيني خلق نـمونځونه کوي، نفلي روژې نيسي، تهجد کوي، د قرآنِ پاک تلاوت کوي، پهٔ مخ باندې يـې ږيره او پهٔ سر باندې يـې عمامه شريف وي او ويښته يـې پريښودې وي خو هغوئي پهٔ خاندان کښې ښې ډيرې جنګ جګړې شروع کړې وي- دغه شان څيني خلق د مور او پلار پهٔ مخکښې پهٔ " تهٔ تهٔ، زهٔ زهٔ" کولو کښې هيڅ باک نهٔ لري، د مور پهٔ سترګو کښې پهٔ سترګو اچولو او پهٔ خبرو کولو ورله شرم نهٔ ورځي، د پلار پهٔ رټلو

ورسره دا اِحساس نه وي چې هغه غلطي کوي، که پلار يو محفل ته راشي نو د هغهٔ نه لرې تښتي او که دوست راشي نو هغهٔ ته هر کلے وائي او د هغهٔ سره پهٔ خندا خوشحالۍ خوږې خوږې خبرې کوي، داسې خلقو ته ياد ساتل پکار دي چې د مور او پلار زړهٔ خفه کول سخته ګناه ده- د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو نه پهٔ ډکو اِجتماعاتو کښې شرکت کوونکي ځيني خلق چې کله د مور او پلار سره داسې انداز اختياروي نو هغوئي د ګنهګاريدو سره سره دعوتِ اِسلامي ته د ردو بدو وئيلو سبب هم جوړيږي-

که تاسو د پرونه پورې د مور سره پهٔ " تهٔ" وئيلو خبرې کولې نو اوس پهٔ " تاسو" وئيلو سره خبرې کوئ- وګورئ چې د " تهٔ" پهٔ ځائے پهٔ " تاسو" وئيلو سره نهٔ خو پهٔ ژبه پولۍ راخيژي او نهٔ پرې وخت لګي- چرته چې د دوست د متاثره کولو د پاره پهٔ " تاسو، جناب" وئيلو د دروغو د اخلاقو څرګندونه کيږي هلته که د مور سره پهٔ " تاسو" وئيلو سره خبرې اوکړے شي نو د هغې زړهٔ به خوشحاله شي- د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو نه پهٔ ډکو اِجتماعاتو کښې شرکت کوونکي اِسلامي ورونړه که پهٔ کور کښې د ادب والا انداز اختيار کړي نو د دوئي " مور" به د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول نه متاثره شي او دوستانو ته به وائي چې زما ځوي بنه ځائے ته ځي ځکه چې مخکښې به هغهٔ ما سره پهٔ " تهٔ" وئيلو سره خبرې کولې او اوس پهٔ " تاسو" وئيلو سره خبرې کوي، مخکښې به چې ما هغه د څهٔ کار د پاره رابللو نو وئيل به يې " بنه راځم" او اوس د " جي مور جانې حاضريږم" پهٔ شان پهٔ ادب والا الفاظو جواب راکوي- وګورئ چې کله مور

بي بي د سُنَّتو نه پهٔ ډکو اِجتماعاتو کښې د شرکت کوونکي څوي ښهٔ اخلاق او د خبرو ښهٔ انداز وويني نو هغه به نورو ځامونو ته وائي چې څويه! د کله نه چې ستا ورور د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو نه پهٔ ډکو اِجتماعاتو کښې شرکت کوي مَاشَآءَ الله! پهٔ ښه طريقه خبرې کوي لهذا اوس پکښې تهٔ هم شرکت کوه- بهر حال که چرې پهٔ کور کښې د ښو اخلاقو نه کار واخستے شي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د کور ماحول به ښهٔ شي او د کور ډيرې مسئلې به حل شي-

## د اولاد د دِيني ماحول نه د لرې ساتلو يوه وجه

ځينې جذباتي اِسلامي ورونړه چې کله څهٔ سُنَّت زده کړي نو پهٔ زوره پهٔ خپل مور او پلار باندې پهٔ هغې باندې د عمل کولو کوشش کوي، بعضې وخت پهٔ دې وجه هم مور او پلار خپل اولاد د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول نه لرې ساتي- داسې اِسلامي ورونړو ته عرض دے چې وګورئ! پهٔ يوه خبره باندې د عمل کولو ذهن پهٔ ورو ورو جوړيږي، تاسو د دومره مودې نه پهٔ اِجتماعاتو کښې شرکت کوئ او مبلغين پهٔ آيتونو او حديثونو بيانولو تاسو پوهه کوي بيا چرته ستاسو پهٔ ورو ورو پهٔ سُنَّتو باندې د عمل کولو ذِهن جوړ شي، بيا که تاسو يو دم د مور او پلار نه پهٔ سُنَّتو باندې د عمل کولو غوښتنه کوئ نو هغوئي به يې اونکړے شي-

که تاسو مور او پلار څهٔ پوهه کول غواړئ نو د دې بهترينه طريقه دا ده چې تاسو پهٔ هغوئي د آډيو يا ويډيو د سُنَّتو نه ډک بيانونه واورئ ياورته وښايئ، د څهٔ نيک کار پهٔ مور او پلار باندې د مسلط کولو پهٔ ځائے پهٔ هغې باندې پخپله عمل کوئ، د هغوئي پهٔ مخکښې د زړ غصه کيدو نه ځان ساتئ او هغوئي هيڅکله مهٔ رټئ، که مخکښې به مو د کور کارونه کم کول نو د دعوتِ

اِسلامي دِيني ماحول ته د راتلو نه پس ډير کول شروع کړئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! مور او پلار به ستاسو نه خوشحاله وي، د كور ماحول به ښه جوړيږي، الله پاک او د هغهٔ خوږ رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به راضي وي او تاسو به د دِين خدمت پهٔ ډيره ښه طريقه كوونكي جوړ شئ- كه مور او پلار ووائي چې څويه! د شپې د دولسو بجو پورې كور ته راځه نو تاسو د 11:30 بجو پورې كور ته راځئ او زر اودهٔ كيږئ د دې پهٔ بركت باندې به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د سحر د نـمونځ د پاره تاسو راپاځئ او كه تهجد كول غواړئ نو پهٔ راپاڅيدو كښې به اساني وي، سحر به كارونه هم پهٔ ښه طريقه كولے شئ- وګورئ! كه تاسو د شپې د 2 بجو پورې اخوا ديخوا پهٔ هوټلو كښې ګپونه لګوئ او كور والؤ ته وايې چې مونږ د دعوتِ اِسلامي پهٔ دِيني كارونو كښې د مصروفه كيدو پهٔ وجه ناوخته كور ته راځو نو پهٔ داسې كولو سره به كور والا دعوتِ اِسلامي والؤ ته ردې بدې وائي لهذا د ماسخوتن د نـمونځ كولو نه پس درس وركړئ او د مدرسة الـمدينه بالغان ښودلو سره كور ته تشريف يوسئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! كور والا به مو خوشحاله وي او بيا د پاره به د سُنَّتو نه پهٔ ډكو اِجتماعاتو وغيره كښې د شركت كولو اِجازت هم دركوي-

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! تاسو د بيان پهٔ شروع كښې د صِلهٔ رحمي پهٔ باره كښې روايتونه واوريدل، يو څو نور روايتونه وړاندې كولے شي:

## چا چې زهٔ وپاللم الله پاک دې هغه وپالي

پهٔ " بخاري او مسلم شريف" كښې دي: خپلولي د خُدائے د عرش سره معلق (يعني زوړنده) ده او عرض كوي: چا چې زهٔ وپاللم الله پاک دې هغه

وپالي (يعنې څوک چې خپلولي وپالي الله پاک دې هغه هم وپالي) او چا چې زۀ پرې کړم (يعنې څوک چې خپلولي پرېږدي) الله پاک دې هغه هم پرېږدي-

(مسلم، ص1062، حديث:6519)

## د الله پاک د رحمت موندلو ذريعه

حضرت سَيِّدُنا عبدُ الرحمان بن عَوف رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي: ما د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه واوريدل، هغوئي اِرشاد وفرمائيلو چې: الله پاک اِرشاد فرمائي چې زۀ الله يم، زۀ رحمان يم، ما رحم پيدا کړو او هغه مې د خپل نوم نه مُشتَق کړو (يعنې ويستو)، څوک چې صِلۀ رحمي [يعنې خپلولي] وپالي زۀ به هغه د خپل رحمت سره ميلاو کړم او څوک چې قطع رحمي اوکړي [يعنې خپلولي پرېږدي] زۀ به هغه د خپل رحمت نه لرې کړم-

(ترمذی، 3/363، حديث:1914)

## صِلۀ رحمي دا ده چې هغه خپلولي پرېږدي او بيا يې هم تۀ پالي

"پۀ بُخاري شريف" کښې دي: صِلۀ رحمي دا نۀ ده چې د تَګ راتګ کوونکو خپلوانو سره تعلق پۀ ځائے وساتې (يعنې کوم خپلوان چې ښه تعلقات ساتي د هغوئي سره ښۀ تعلقات وساتې) بلکې صِلۀ رحمي دا ده چې کومو خپلوانو تعلقات ختم کړي وي د هغوئي سره هم تګ راتګ پۀ ځائے وساتې-

(بخاری، 4/98، حديث: 5991)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پۀ دې حديثِ پاک کښې څومره زبردسته خبره بيان کړے شوې ده چې څوک زمونږ سره تعلق پرېږدي او نفرت کوي مونږ له

د هغوئي سره هم خپلولي پالل پکـار ده، که چرته پهٔ لاره کښې میلاؤ شي نو چې مونږ هغهٔ ته سلام اوکړو، که زمونږ کره څهٔ ښادې وي نو هغوئي له هم ضرور دعوت ورکړو اګر که هغوئي رانشي خو مونږ د خپل طرف نه د هغوئي سره د خپلولۍ پاللو کوشش اوکړو۔

## د هُغه خلقو نه مهٔ کیږئ

د " ترمذي شريف" پهٔ حديثِ پاک کښې دي: د هُغه خلقو نه مهٔ کیږئ کوم چې وائي چې که خلق زمونږ سره ښيګړه کوي نو مونږ به هم د هغوئي سره ښيګړه کوو او که هغوئي زياتے کوي نو مونږ به هم زياتے کوو بلکې تاسو د دې خبرې عادت جوړ کړئ چې که خلق ستاسو سره ښيګړه کوي نو ښيګړه اوکړئ، که هغوئي زياتے کوي نو تاسو زياتے نهٔ کوئ۔

(ترمذی، 405/3، حديث:2014)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دې حديثِ پاک نه معلومه شوه چې مونږ له د څيړې جواب پهٔ سُک سره نهٔ دي ورکول پکـار بلکې که خپلوان زمونږ سره هر څومره هم خراب سلوک اوکړي نو مونږ له د خپل طرفه د ښه سلوک دروازې بندول نهٔ دي پکـار۔ چا څهٔ ښه وئيلي دي:

وہ جفا کرتے رہے ہم وفا کرتے رہے
اپنے اپنے فرض کو دونوں ادا کرتے رہے

## الله پاک به ستا ملګرے او مددګار وي

يو کَس پهٔ بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې عرض اوکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زهٔ د خپلوانو سره تعلق ساتم خو هغوئي زما سره تعلق پرېږدي، زهٔ د هغوئي سره ښيګړه کووم خو هغوئي زما سره بد کوي، زهٔ د

هغوئي سره د نرمئ او حِلم او بردبارئ والا سلوک کووم خو هغوئي زما هيڅ خاطر نهٔ کوي- خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد وفرمائيلو: که ستا خبرې رښتيا وي نو تا يوه لرې لاره ووهله او د څو پورې چې تهٔ پهٔ دې خپل عمل باندې قائم اوسې نو الله پاک به ستا ملګرے او مددګار وي-

(مسلم، ص1062، حديث:6525 ماخوذاً)

## د ټولو نه بهترينه صدقه

پهٔ يو حديثِ پاک کښې دي: چې د ټولو نه بهترينه صدقه کينه ناک رشته دار له څهٔ ورکول دي- (مستدرک، 27/2، حديث:1515)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! معلومه شوه چې کوم خپلوان زمونږ نه نفرت کوي هغوئي له څهٔ ورکول د ټولو نه بهترينه صدقه ده خو څوک چې زمونږ تعريف، خوشامد او واه واه کوي مونږ هغوئي ته ورکړه خو کوو خو څوک چې زمونږ سپکاوے کوي او ملنډې راپسې کوي د هغوئي نه مخ اړوو-

## د قيامت پهٔ ورځ پهٔ حِساب کښې اساني

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: پهٔ چا کښې چې درې صفتونه وي د قيامت پهٔ ورځ به د هغهٔ حِساب ډير اسان وي او د هغهٔ ځائے به جَنَّت وي- صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم عرض اوکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! هُغه درې صفتونه کوم کوم دي؟ اِرشاد يې وفرمائيلو: څوک چې تا محرومه کوي تهٔ هغه ته ورکړه کوي ، څوک چې ستا سره تعلق پريږدي تهٔ د هغه سره تعلق ساتې او څوک چې پهٔ تا باندې ظلم کوي تهٔ هغه معاف کړې- (مستدرک، 362/3، حديث: 3968 ملتقطاً)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! خپلولي ماتول حرام دي- که څوک خپل زمونږ سره تعلق پرېږدي نو بيا هم مونږ ته هم دغه حکم دے چې مونږ د هغۀ سره تعلق وساتو- که مونږ د کوشش باوجود پۀ خپل ژوند کښې پۀ يوې پرېښودے شوې رشتې جوړولو کښې ناکامه شو نو زمونږ محنت به نۀ ضائع کيږي ځکه چې پۀ داسې کولو به الله او د هغۀ خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زمونږ نه راضي شي او هم دا زمونږ د ژوند مقصد دے- ياد ساتئ! اګر که ټوله زمانه زمونږ نه خفه شي خو چې رَبِّ کريم راضي شي نو بيا هر طرف ته خير دے- که د خپلوانو سره تعلق ساتل وي نو صرف د الله پاک د رضا د پاره يـې ساتئ او که پۀ يو خپل کښې څۀ خرابي وي نو د هغۀ د صحبت نه ځان ساتئ، د هغۀ د خراب حرکت نه نفرت کوئ او پۀ هغۀ کښې چې څۀ خرابي وي صرف هم هغه بده ګڼئ خو د هغۀ د ذات سره تربګني مۀ کوئ مثلاً څوک ږيره خريوي نو د هغۀ ږيره خريل بد ګڼئ خو پۀ خپل زړۀ کښې د هغۀ د ذات پۀ باره کښې بُغض او کينه مۀ ساتئ البته د نزدې دوست يا خپل کيدو پۀ وجه چې د هغۀ سره داسې محبت هم پۀ زړۀ کښې نۀ وي چې د هغه د ږيرې خريلو پۀ شان کار هم ښه معلوم شي- دغه شان که يو خپل رشوت اخلي يا سود کوي يا فلمونه ډرامې ګوري نو مونږ د هغوئي دا کارونه بد وګڼو خو پۀ زړۀ کښې د هغوئي بغض او کينه نۀ پالو- نن سبا ډير خلق د خپل ذات د پاره د نورو سره بغض او کينه ساتي او جنګ جګړې کوي نۀ چې د څۀ ګناه پۀ وجه مثلاً څوک د چا نه پۀ دې وجه نفرت نۀ کوي چې هغه نـمونځ نۀ کوي يا فلمونه ډرامې ګوري بلکې پۀ دې وجه نفرت او جګړه کوي چې هغۀ د دۀ خبره نۀ وي منلې يا د ټولو پۀ مخکښې يـې دا رټلے وي يا يـې ورله پۀ څۀ ښادې کښې د شرکت

کولو  دعوت نهٔ وي ورکړي وغیره- نن سبا څوم، سخرګنی والا خپل نوکران ګنړي او غواړي چې پهٔ هره ښادۍ کښې هغهٔ له دعوت ورکړے شي او د بوتللو د پاره ورپسې ګاډے هم راولیږي ګني پهٔ تللو کښې نخرې کوي یا بیا هډو ځي نهٔ، داسې پهٔ رشتو کښې نخرې کولے شي او د دې نخرو پهٔ وجه ډیر کورونه ورانیږي- الله پاک دې زمونږ پهٔ حال باندې رحم اوکړي او مونږ ته دې د خپلوانو سره د صِلهٔ رحمۍ نه د کار اخستو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ۔

د راروانې هفتې رساله




فیضان مدینه محله سوداګران، زړه سبزي منډۍ کراچي
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net